!!

!!

## لومړی فصل:

# د ولس منفي ليدلوري

که څه هم زموږ بادرکه او هوښيار ولس په لويه پيمانه له رسمي تعليم څخه بې برخې دی او ټول وګړي يې تعليم يافته نه دي، خو سياسي شعور لري. د بن تر پرېکړې وروسته په ټول هېواد کې ازادې راډيوګانې فعاليت کوي، چې دا د سياسي شعور په وده کې خپل رول لري. له پېړيو راهيسې جوماتونه زموږ د ټولنيز قضاوت رښتيني مراکز دي او د ولس تر منځ په غم-ښادۍ کې هم خلک د ټولنيزو قضاياوو په اړه بحثونه کوي. که دغو بحثونو ته په ځير وکتل شي، نو څرګنديږي چې عام قضاوت داسې دی، چې اوسنی دولت تګلاره نه لري، په زعامت او مشرۍ نه پوهېږي او د مؤثريت خاوند نه دی. له همدې کبله په ټول هېواد کې د خلکو تر منځ يو منفي ليدلوری موجود دی.

خلک پوهېږي چې دولت بې اغېزې شوی، اقتصادي نظام نه لرو، د ملت حيثيت او ملي هويت مو تر بل هر وخت ضعيف او د کمزورۍ پړاو ته د رسېدلو په حال کې دی.

له نړيوالې ټولنې سره مو اړيکې په خطرناک حالت کې دي او په هېواد کې د نن او بهر د افغانستان د راتلونکي په اړه د ډار او نهيلۍ فضا حاکمه ده. امنيتي ستونزې زياتې شوې دي





او حتی لويې لارې او حلقوي سړکونه بې امنه او بې ډيسپلينه دي.

وسله وال مخالفين د کابل ښار دروازو ته رالنډ شوي او که وغواړي کولی شي د حکومت او نړيوالې ټلوالې د ځواکونو پر وړاندې هر تخريبي اقدام وکړي.

که چېرې دا وګڼو چې د مخالفو وسله والو موخه د دولت ضعيفول وي، نو بايد ومنو چې دوی خپل هدف ته رسېدلي او نن يې په ټول ملت کې دا روحيه او مفکوره پياوړې کړې، چې دولت ضعيف، بې اغېزې، بې مديريته او په اداري فساد کې ډوب دی.

د دولت ستره کمزوري دا هم ده چې کوم ټاکلی هدف نه لري او نه شي کولی چې د يوه ټاکلي هدف پر لور پر مخ ولاړ شي او د خلکو تر منځ خپل اعتبار ته وده ورکړي.

زيات وختونه داسې کېږي، چې د مهمو مسايلو په اړه په اونيو د دولت دريځ څرګند نه وي او يا هم داسې پېښ شوي، چې په يوه اونۍ کې د يوې مهمې مسألې په باب د دولت موقف دوه يا درې ځله تغير کړی وي. د يوه هېواد مشر چې څرګنده موخه او فکري استحکام ونه لري او يا دا چې په دوامداره توګه خپل ټاکلي اهداف تعقيب نه کړي نه دولت جوړولای شي او نه هم ځان ته اغېزمن دولت ويلی شي.

په ۱۳۸۱هـ ش کال، چې کله د بن پرېکړه وشوه هغه وخت په ټول هېواد کې مثبته اجماع او ستره هيله مندي موجوده وه.

د بيړنۍ لويې جرګې تر رسمي پيل د مخه په ناڅاپي ډول يو ملي بحث روان شو. خو مخکې تر دې، چې بحث پيل شي د جرګې وکيلانو يو بل ته په نا اشنا نظر کتل، ځکه د خلکو تر

